شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۳/۲۲

# ښکلی

هر خوا تـه چې ګورې دا جهان ښکلی
وګوره! جـهــان کې دی جـانـان ښکلی

بل لـور تـه وحشي ظـالـمان څه کوي
وژني قـتـلوي خـــومـــره انسان ښکلی

نـورې نـړۍ څومره پـرمـختګ کړی
مـوږه وروستـه پاتې، خو ارمـان ښکلی

ورور وژني، هـیـواد ورانوي څه لـره؟
لـږ دې شرم وکـړي، دی احسان ښکلی

غـواړي، درنه غواړي یوه ورځ حساب
بـس کـړه ځـنــاوره، دی ایـمــان ښکلی

واوره لـــه آریـن نــه دا رسـا چـیـغـه
ویـښ شـه زمـا واوره دا پـیـمان ښکلی

۲۰۱۹/۱۲/۲۴
مالمو
سویډن